**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## نړیوالو سازمانونو د غرب د چټل تمدن د ثبات هڅې پیل کړې دي

د ښښنې نړیوال سازمان په یو پرانیستي لیک کې راغلي: «نوی پارلمان باید د بشر حقونو ته لومړیتوب ورکړي.»
دغه سازمان د پارلمان پر غړو غږ کړی، چې د شورا د ټاکلو په موخه په راتلونکو شپږو میاشتو کې د ټولنیزې جنسي برابرۍ د ضمانت او پر همجنسبازانو د محدودیتونو د لرې کولو په شمول ۱۰ نورې مهمې مسلې روښانه کړي.

سیاسي ډلو دغه غوښتنې منلې او خپل ملاتړ یې ور څخه څرګند کړی دی. په حقیقت کې دغه لیک د دغو غوښتنو تر شا د هغو ډلو اصلي څېره په ډاګه کوي، چې د بشري حقونو په نامه پر ناوړه رنګ پوښل شوې ده.
نو په همدې تړاو:

موږ پر دولتي چارواکو، نوو ټاکل شوو معاوینینو، سیاسونو او د نظر پر خاوندانو غږ کوو، چې د بشري حقوقو په نامه د دا ډول خبرو او ادعاوو جدیت درک کړي او د هغو غربي اجنډاوو مخه ونیسي چې د تېراېستلو، چالاکۍ او پیسو په مرسته غربي نظام او تمدن پلی کوي. د امت پر تحریف سربېره زموږ له اساسي مسلو څخه یوه هم د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي انحصار څخه خلاصون دی، خو له بده مرغه چې موږ د هغه څه خلاف لاهم په جزیاتو کې لګیا یو، چې اسلام اړین بللي دي. د شته وضعیت د بدلون په موخه د اسلامي تمدن پروژو ته د «یوازینې بدیل» په توګه هڅې نه دي شوې. له همدې امله موږ په امت کې پر ژوندیو قواو غږ کوو، چې دغه یوازینی بدیل درک او پلی کړي! په هغه غولوونکي شعار "ایدیالوژیک بیان ته نه" باندې دوکه نه شي چې غرب د امت د انقلاب پر وړاندې راپورته کړی! او د خپل کلتور په مرسته هغو فکري او سیاسي پروژو ته لاره پرانیزي چې د ژوند څخه د اسلام د بیلتون پر اساس ډېزاین شوې دي. دوی په ډېره زړه ورتیا سره هغه تګلارې چې حتی غرب کې له شرمناکې ماتې سره مخ شوي موږ ته د نړیوال حقیقت! په توګه وړاندې کوي.
الله ج فرمایلي دي:

**[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ * وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْكُمْ خَاصَّةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ العقاب]**

[ انفال:۲۴-۲۵]

**ژباړه:** *اې مومنانو! د الله او د هغه د پیغمبر بلنې ته لبیک ووایاست چې کله پیغمبر تاسو ته د هغه شي په لوري بلنه درکوي چې تاسو ته ژوند بښونکی دي او پوهېږئ چې الله د انسان او د هغه د زړه ترمنځ حایل دی او د همغه لوري ته به تاسې ورغونډ کړای شئ او له هغه فتنې څخه ځان وژغورئ چې د هغه ناوړه اغېزه به په ځانګړې توګه یوازې پر هغو خلکو پورې محدوده پاتې نه شي چې په تاسو کې چا ګناه کړې وي او وپوهېږئ چې الله ج سخت سزا ورکونکی دی.*

**په ولایه تونس کې د حزب التحریر مطبوعاتي دفتر**